علامه فخررازي مي نويسد:" اين آيه كريمه دال برآن است كه اخذوتوزيع زكات به امام ويامامورانيكه ازجانب وي براي اين امرتعين مي گردند، مربوط مي باشد ، به اين دليل كه الله جل جلاله براي عاملين درتوزيع زكات سهمي رامقررفرموده است . وعامل كسي هست كه رئيس دولت اوراموظف مي سازد.بناً" اين نص ثابت مي سازدكه وظيفه امام است تازكات راازمردم اخذ، وبه بيت المال تحويل بدهدتابه راهاي مشروع آن مصرف گردد ."

«ديده شود (التفسيرالكبيرللرازي جلد۱٦ صفحه ۱۱٤)

دليل ديگري كه اين مدعاراثابت مي سازداينست : چون برخي ازوجوه مصارف كه آيه كريمه فوق به آن اشاره نموده ، جزاينكه امام آنرا تنظيم نه نمايد، كسي ديگري آنرانميتواند .

مثلاً : مصارف مولفة القلوب ، اعدادوتنظيم افرادوتجهيزآنها براي جهادفي سبيل الله ... اين همه اموريست كه جزبه تصرف رئيس وزعيم امت ممكن نيست .

ونيز الله جل جلاله مي فرمايند : " بگيرازاموال ايشان زكات تاپاك سازي ايشان راوبابركت كني ايشان رابه آن ودعاي خيركن برايشان، هرآئينه دعاي توسبب آرامش است ايشان راوخداشنوادانااست" « ترجمه آيه ۱۰۳ سورة التوبه »

درآيه مباركه فوق خطاب به نبي كريم صلي الله عليه وسلم وهركسيكه بعدازاو صلي الله عليه وسلم متولي امرمسلمين مي گردد ، مي باشد، وفهم صحابه رضي الله عنهم ازمنطوق آيه كريمه نيزهمين بوده است . ديده شود تفسيرابن كثير جلد ٤ صفحه ۱٤٥ .

ازابن عباس رضي الله عنهما روايت است كه وقتي رسول الله صلي الله عليه وسلم معاذبن جبل رضي الله عنه رابه سوي يمن فرستاد، بوي فرمود :" ايشان راتعليم كن كه الله جل جلاله برآنهادرمالهاي شان زكات رافرض گردانيده تاازاغنياآنهااخذ وبه فقراي ايشان داده شود، پس اگر دراين موضوع ازتواطاعت نمودند، بايدبهترين وخوبترين مالهاي شان رادرزكات نگيري ، يعني مال متوسط رااخذ بدار."

(متن الاغنياوتردفي الفقراء فتح الباري جلد ۳ صفحه ۳٥۷)

ازمتن حديث شريف مذكوربخوبي معلوم مي شود كه بايد غيرازدهنده زكات ، كسي ديگري باشدكه زكات رااخذ وسپس انراتوزيع نمايد، وتوزيع آن به اختيار زكات دهنده گذاشته نشده است . ديده شود(فقه الزكاة القرضاوي جلد۲ صفحه ۷٤۹)

همچنان حافظ ابن حجرعسقلاني رحمة الله درتشريح حديث شريف فوق مي نويسد "... ازاين حديث به خوبي استدلال مي گرددكه امام وحكومت بايد امرقبض زكات وتوزيع آنرا شخصاً وياتوسط نائب خودبه عهده گيردوكسيكه ازاداء آن به امام وحكومت اباورزد ، قهراً ازوي اخذمي شود ". ديده شود(فتح الباري جلد۳ صفحه ۳٦۰)

تاريخ وسيرت گواه برآن است كه رسول الله صلي الله عليه وسلم براي اخذ زكات افرادي را به مدن وشهرها ارسال مي نمودند تازكات راجمع آوري نمايند، ومسلك وروش خلفاي راشدين نيزهمين بوده است ، ودراين مورد ازصحابه كرام فتواهاي خيلي زياد صادر شده است .

ادامه دارد

خداي پامان انقلابه

فضل غني" كامه وال"

پدي لنډو وختونوكي دانقلاب عجيب غريب حالات راغلل اوډژوندانه مختلف اړخونه مو وليدل. ډير ټيټ اوپاس . ښكته اوپورته پراوونه موتير كړل. په ډير و ترخواوخوږو جامونو موخولي كينبودلي . پدي انقلاب كي ډير پوهان اوناپوهان ښكته اوپورته شول. له ډيرو غريبو نه سرمايه داران جوړشول اوډير سرمايه داريي دپولي ترك ته كينول . مزدوران باداران اوباداران مزدوران شول . ډيرهمسايه گان دبنگلو ښتنتان اوډير دبنگلو خاوندان نن دهمسايه توب شپي اوورځي سباكوي.

هغه چي هلته بي خرته درلود نن ددوه سيټه اوپاجرو سره لوبي او نخري كوي دوخت اوزماني اوښتون ډير ډاړه لويان . اوډير لويان بي واړه كړل.

ډير خوانان بي زاړه اوډير زاړه بي څوانان كړل. څوك بي دزندانونو تورو تمبوته ودرول اوڅوك بي دتورو كوټونه دپاچاهي په تخت كينول .

دچاجنت په برخه شو او دچا دوزخ.څوك بي په ژوند يني ورك كړل اوڅوك بي په مرگ محكوم .

چاته بي په زړه هيڅ ارمان پري نښود اوڅوك دچوچ اوپوچ سره پكښي پوښاشول چا دنظر اوعقيدي نه هرڅه قربان كړل او چا هر څه دخپلو ارزو گانو نه لوگي اوصدقه .

ډيروپكښي هرڅه خرڅ كړل اونورو پكښي هرڅه واخستل . او ډير وپكښي بيا دخريداوفروخت منډيان جوړكړل. چاپكښي پښي اولاسونه قرباني كړل او چاپكښي ځانونه اومالونه .

څوك دالله (ج) سره دوعدو او پيمانونو دوفا په خاطر په داروختل .

اوچا خپلو تعهداتوته دتوت قدري اهميت هم ورنكړو چا په دروغو، ټگيو او دوكوسره ځانونه ورسول اوڅوك خپل صداقت په كور كينتول . اوزياتو پكښي خپل ارمانونه گورته يوړل.

ډيريه ډيرو تيروتل . اوډير و دډيرو په شخصيتونو لوبي وكړي او ډيرو پكښي انساني خوبونه دلاسه هم وركړل او دڅاروپو په خير تاڅ بالاشول.

څوك دحلالو په انتظار لاس ترزني كيناستل اوڅوك دحرامو ميني اومحبت داسي ليوني كړل چي هرڅه بي له ياده ووتل او اخرت خوبي بالكل په خوااوخاطر كي نه گرځي .

څوك دومره حرص اخستي دي چي هيڅ مړېنت نلري مگر خو له يي له تورو خاورو ډكه شي.

آه . انقلابه !

نه دوست معلوم شو اونه دښمن نه مو خپل وپيژندل اونه پردي .ته لكه دپيل خلتم غونډي وچ لامده يوځاي رانغاړي تاسره هيڅ اصول اومعيارونه ،تول ترازو نشته ته هميش دخپلو دوستانو او بچو دښمن يي.

خو داراته ووايه انقلابه چي هدف ته زما درسيدلو منزل ډير پاتي كه لږ.

داخوډيره اوږده دتكليفونو اوكړاوونو نه ډكه لياروه .

زه خونوروډير ستړي اوستومانه يم زه نور بي لاري شوي يم لاره مي وركه ده . زه به تر هغي دلته ناست يم چي كوم لارښود راشي او ترلاسه مي ونيسي او لار ښوونه راته وكړي ترهغي خداي پامان انقلابه !!!

#####

دمسلمانانو ترمينځ الفت او وروولي دقرآن اواحاديثوپه رڼاكي

-۲- محمدمنصور عابد

معني داچي دخپل وروړله عيبونوڅخه به په ښكاره اوپټه كي پټه خوله اوسي حتي چي دهغه له ناشوده اوناددودوڅخه به ځان بي خبره بولي اوسترگي به وربانڊي پټوي، دهغه په ځاني اسراروبانډي به ځان نه خبروي، دهغه كورني اوخپلو خپلوانوته به بدرده وائي، خلاصه داچي دټولوهغوخبرونه به پټه خوله اوسي چي همغه ته په زړه پوري نه وي، مگرهلته چي په شرعي اندازكي ورته اجازه وي .

٤- دژبي حقوق دبيان اوخبروله پلوه :

داپه دي معني چي هغه څه چي ويل ئي ستاديني وروړته خوښ اوپه زړه پوري وي هغه به ورته وائي اودخبروله لاري به دهغه پوښتنه اوگوبرنه كوي، محاسن به ئي ورته بيانوي ،اودخپلي ميني اومحبت څخه چي دهغه سره ئي لري هغه ته به خبرورکري ترڅوهغه هم له تاسره مينه اومحبت وكړي . اوپه دغه رابطه رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائي (اذااحب احدكم اخاه فليخبره)

٥- دسهوواوخطاگانوڅخه ښښنه :

دميني وروړگلوي اوملگري له حقوقو څخه يوهم دخپل ورور دخطاگانو اونادودوڅخه ښښنه ده چي دغه نادودي په دوه شكلونوكي څرگنديږي : يوداچي سهوي اوخطاگاني دگناهونو په چوكاټ كي څرگنده شي اوبياپه همغوي باندي اصراراودوام هم كوي په دغه صورت كي دصحابه كراموادتابعينوپخپلوخپلومينځونوكې څه اختلاف نظرشته دي چي دهغوي له جملي څخه ابوذرغفاري رضي الله عنه فرمائي چي د(الحب في الله والبغض في الله) داصل سره سم بايد ورسره پريكړه وشي، ولي ابودرداء اوځه نورصحابه رضوان الله عليهم فرمائي چي دگناهونودارتكاب په صوريت كي هم بايدله هغه سره رابطه وساتله شي څكه كه يوځله دگناه مرتكب شونو بل ځله خوگناه پريږدي اوهمدغه نظردابراهيم نخعي رحمة الله عليه هم دي .

دوهم داچي نادودي اوناخوالي ئي ستاپه رابطه څرگندي شي په دغه صورت كي اتفاقي مسئله داده چي هغه ته به عفو كوي اوخپله وروري به ورسره ساتي .

٦- دوروري له حقوقو يوهم دوعاده چي دوروړلپاره به دهغه په ژوندكي اووروسته له مرگه ورته هغسي دوعاكوي لكه څنگه چي دځان په هكله دوعاكوي .

۷- وفااواخلاص دي چي دوروري اوملگرو په مينه اومحبت باندي به دټول ژوند په اوږدوكي ثابت پاتي كيږي اووروسته له مرگ څخه به دهغه له عيال اونورو خپلوانو سره خپلي وروري ته دوام وركوي .

۸- هغه به تكليف اوتكلف ته نه اړباسي چي په نتيجه كي وروري په هغه باندي درنده تمامه شي په دي هلكه رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائي :" اناوالاتقياء من امتي براء من التكلف " يعني زه اوزما دامت نيكان له تكلف څخه بيزاره دي، الله (ج) دي مونږته دمؤمنانو وروري په نصيب كړي . آمين

۲٦۰ تن مهاجربوسنيايي وارد پاكستان شد

اسلام آباد - ۲۸ جوزا.

گزارش شده كه بيش از ۲٦۰ تن ازپناهندگان مسلمان بوسنيا وارد اسلام آباد پايتخت پاكستان شده اند.

اغلب اين مهاجرين را زنان كودكان وافراد سالخورده ازمناطق غربي ومركزي بوسنيا تشكيل ميدهند اين عده بايك طياره اجاره اي به پاكستان انتقال داد ه شده وبعد از ورود به اسلام آباد به يك اردو گاه موقت پناهندگي مخصوص زايران حج بيت الله است رهنمايي شدند.

مقامات پاكستان درصدداند ايشان را درشمال كشور درخانه هاي دايمي جاي بدهند. نوازشريف صدراعظم پاكستان باورود ٤۰۰ بي خانمان بوسنيا به پاكستان موافقت كرده است ودسته بعدي درآينده وارد پاكستان خواهند شد.

#####

مژده مژده

جهت رشد سويه تعليمي شما هموطنان عزيز كورس انگليسي I.R.C OUTREACH باداشتن استادان باتجربه وهمه امكانات تعليمي وتدريسي (سمعي وبصري)آماده خدمت بوده براي صنوف بيگينر تاايدوانس B.A شاگرد مي پذيرد.

وقت : همه روزه ازساعت صبح ۸ تا۸شام

آدرس : منزل دوم جلال بلدنگ رامداس چوك پشاور شهر

آدرس ۲ اكسفورد پبلك سكول فيز (۱) دي (۳) روبروي بهبود كمپكس نزد خيبر پارك حيات آباد پشاور.

آدرس (۳) چرات مسالح خانه بلدنگ حاجي حليم خان نزديك داكتر جميل ايند ستار ميوزك سنتركوتلي كلان بازار.

آدرس (٤) كمبريج پبلك سكول دوب (۱) ماسهره .

ايدمنستريټور، همايون الرحمن سعيد.

#####

مذاكرات صلح شرق ميانه باين بست مواجه شد

واشنگتن ۲۸ جوزا.

گفتگو هاي صلح شرق ميانه كه درواشنگتن جريان داشت بدون پيشرفت محسوس درمورد آينده بيت المقدس وبلندي هاي جولان به تعويق افتاده است.

رئيس هيئت مذاكره كننده اسرائيلي اين مذاكرات را مفيد خوانده است اما مذاكره كنندگان فلسطيني وسوري گفته اند كه درگفتگوها پيشرفتي حاصل نشده است .

دوكتور حيدر عبدالشافي رئيس هيئت فلسطيني گفت امتناع اسرائيل ازبحث درمورد بيت المقدس مانع اصلي رسيدن به توافق مؤقت پيرامون سرزمين هاي اشغالي است .

براساس يك خبر ديگر حداقل شش فلسطيني درجريان درگيري باعساكر اسرائيلي درباريكه اشغالي غزه مجروح شده اند گزارش ها حاكيست كه اين افراد هدف تيراندازي عساكر رژيم صهيونستي قرار گرفته به شهادت رسيدند همچنان اردوي اسرائيل مقررات منع عبور ومرور را براي سومين روز متوالي بركمب نصيرات نافذ ساخته است.

مسكو اواوكراين دشوروي دبحري دبيړي په ويشلو متفق شوي دي.

مسكو دغبرگولي ۲۸ نيټه .

روسيه اواوكراين موافقه كړيده چي دوي به په توره بحيره كي دشوروي بحري بيړي په دوو برخو دويشلو پروگرام ژر ترژره عملي كړي، دوي دغه موافقه په مسكوكي دجمهوررئيس يلتسن اوداوكراين دجمهوررئيس كراوچوف ترمينځ په يوه غونډه كي وكړه په يوه اعلاميه كي ويل شوي چي دواړو بحري قواوي به خپلو عملياتو ته سمون وركړي، دتوري بحيري دبيړيو دملكيت موضوع ددواړو ملكونو ترمينځ د ۱۹۹۱ عيسوي كال راهيسي اړيكي ضعيفي كړيوي پروسږكال دواړو ملكونو موافقه وكړه چي دتوري بحيري بيړيو به ترڅو كلونو پوري ترڅو چي دبيړيو دويشلو لپاره پلان طرح كوي تربوي گډي قوماندانۍ لاندي وي، خو داشخړه هغه وخت رابرسيره شوه چي دموافقي برخلاف ۲۰ بيړيو په توره بحيره كي دروسيي بيرغ جگ كړ.

آلمان باتجزيه بوسنيامخالفت كرد

بن ۲۸ جوزا:

آلمان باتجزيه بوسنيا هرزگوينا كه قراراست به سه ايالت براساس نژادي تقسيم شود مخالفت كرد.

وزيرامورخارجه آلمان روزپنجشنبه بااعلان اين خبر افزود تجزيه بوسنيا به منزله برسميت شناختن تصفيه نژادي خواهد بود.

طبق يك خبر ديگر وارن كريستوفر وزير خارجه امريكا روز پنجشنبه جرمني را مسؤل تشديد بحران دريوگوسلاوياي سابق دانست . وي گفت:جرمني بسيار قبل ازوقت جمهوريت هاي سابق يوگوسلاويا را به رسميت شناخته وباعث آن گرديد كه ساير دول اروپايي ازآن تبعيت نمايند.

هلموت كول صدراعظم جرمني انتقاد وزير خارجه امريكا را برسياست جرمني درين مورد ردكرده است ولي نطاق وي درين گفت صدراعظم معتقد است كه اظهارات وزير خارجه امريكا تا موجه وبي اساس بوده است.

#####

دبوسنيا مشر دهغه هيوادد ويشلو پلان ردكړي

بوسنيا : دغبرگولي ۲۸ نيټه .

رپوټونه وايي چي دبوسنيا پرمسلمانانو باندي فشار مخ په زياتيدو دي چي دسولي دهيئات داپلان ومني چي دصربيا اوكروشيا مشرانو يرون پيشنهاد كر

امريكا ٤٦ ٪ ممالك اروپايي غربي ۲٦ ٪ وروسيه ...

موسسه بين المللي پژوهش صلح استوكهولم راپورجنگ سال ۱۹۹۲ خود را انتشار داده است.

درين گزارش هشتصد صفحه اي گفته شده است كه درسال ۱۹۹۲ درمجموع ميزان كل هزينه هاي تسليحاتي درگوشه وكنار جهان به نسبت سال ۱۹۹۱ تا ۱٥ ٪ كاهش يافته است اما درگيري هاي بسياري در (۳۰) نقطه جهان هم چنان درجريان بوده است.

درين گزارش علت اصلي كاهش معاملات اسلحه ، فروپاشي اتحاد شوروي عنوان شده است.

درحال حاضر ايالات متحده امريكا با ٤٦ ٪ بازار جهان را دراختيار دارد . كشورهاي اروپاي غربي درمجموع ۲٦ ٪ وروسيه ۱۱٪ ازسلاح هاي مورد نياز بازار جهاني را تهيه مي كنند فروشنده جديد اسلحه دربازار جهاني چنين است كه بادراختيار داشتن ۸ ٪ ازبازار اسلحه ، درحال رشداست.

بااين حال پژوهشگران معتقد اندكه مخارج نظامي جهان طي سالهاي آينده هم چنان روبه كاهش خواهد گذاشت ودرسال ۲۰۰۰ ميلادي كل مخارج نظامي درجهان نسبت به امروز كاهش خواهد يافت .

كشورهاي شرق ميانه هم تاسال ۱۹۸۸ ميلادي كه جنگ بين ايران و عراق درجريان بود به عنوان مهمترين بازار اسلحه جهان محسوب مي شدند مثلاً درسال ۱۹۸۳ يك سوم سلاحهاي صادراتي دربازار شرق ميانه بفروش مي رسيد ، سال گذشته ازخريد اسلحه خود كاستند وفقط يك پنجم واردات اسلحه را پذيراشدند . اما پژوهشگران مؤسسه تحقيقات صلح در استوكهولم تاكيد ميكنندكه شماري از كشورهاي شرق ميانه ازقبيل كشورهاي حاشيه خليج فارس درحال بستن قرار داد هاي براي خريدن اسلحه هستند وگمان ميرودكه شرق ميانه بار ديگر به بزرگترين بازار اسلحه جهان تبديل شود. جمهوري اسلامي ايران كه طي سال گذشته نزديك به ٥ ٪ خريدهاي تسليحاتي رادر سطح جهان انجام داده برطبق آمار رسمي طي پنج سال اخير درمجموع بيش از سه مليارد وششصد مليون دالر اسحله خريداري كرده است. واردات اسلحه عراق طي پنج سال اخير بيشتر از ايران بوده وبه پنج مليارد دالر بالغ شد با اين تفاوت كه عراق بخش قابل توجه اي از سازوبرگ نظامي خود را در جنگ باامريكا ومتحدينش ازدست داد و به همين طور به علت اعمال تحريم اقتصادي عليه اين كشور طي دوسال اخير بنابر گزارش واردات اسلحه عراق صفر بوده است.

درميان كشورهاي جهان سوم ، ايران وعربستان سعودي ازنظر مزيد سلاح پس از هند در رده دوم قرار دارند طي پنج سال اخير در كل جهان ايران دهمين خريدار بزرگ اسلحه بوده است. درميان همسايگان ايران عربستان در رده سوم افغانستان چهارم تركيه ششم وعراق دررده هفتم قرار داشتند.

اخبار جهان

ترکیه درحوادث آذربایجان بیطرف خواهد ماند.

انقره ۲۸ جوزا.
حکمت چتین رئیس جمهور ترکیه اعلان کر د،کشورش در امور آذربایجان مداخله نخواهد کرد.
به گزارش خبرگزاري فرانسه وي تاکیدکردترکیه هیچ تصمیمي براي دخالت دردرگیري داخلي آذر بایجان ویامیانجیگري میان طرفهاي درگیر ندارد.
اما دولت ترکیه برکناري ابوالفضل ایلچي باي را باوسایل غیر قانوني محکوم کرده وگفته است که وي رئیس جمهوري منتخب مردم آذربایجان است . معاون صدراعظم ترکیه گفت،دنیانمیتواند قبول کند که یك نظام قانوني بدست شورشیان برکنارشود.گزارش شده که روز جمعه سرکنسل ترکیه درنخجوان باایلچي باي درخانه اش ملاقات کرده است.

ملګري ملتونه دهیتي پرحکومت باندي تعذیرات وضع کوي

هیتي : دغبرګولي ۲۸ نېټه .
دملګروملتو نو دامنیت شورا دراېو په اتفاق فیصله کړېده چي دهیتي دپوځي حکومت پرضد به تعذیرات وضع کوي.
که چیري دهیتي پخواني جمهوررئیس ککین برتل ارشتید چي په دیموکراتیکه طریقه انتخاب شویدي اوځه باندي شل میاشتي مخکي برطرفه شوي بیرته جمهور رئیس نشي نودغه تعذیرات به دجون پر ۲۳ نېټه باندي نافذ شي.
خبر زیاتوي چي دملګروملتونو په دغه پرېکړه کي هیتي باندي دتیلو اووسلو لېږلو اودهغه دټولو شتمنیو دضبطیدو خبره شویده

صدراعظم جاپان درراي سلب اعتمادشکست خورد.

توکیو ۲۸ جوزا.
کي ایجي میازاواصدراعظم جاپان درراي سلب اعتماد درپارلمان شکست خورده است.
راي ګیري که ۲۵۵ مقابل ۲۲۰ راي بود توسط احزاب مخالف حکومت درمجلس سفلاي پارلمان که اهمیت زیادي دارد ترتیب شده وازحمایت ناراضیان حزب حاکم لیبرال دموکراتیك میازاوا نیز برخوردار بوده . آنها میازاوارا متهم مي کنند که به تعهد خودمبني بر ریشه کن کردن فساد سیاسي که در دستګاه حاکمه جاپان ریشه عمیق دارد ، وفانکرده است . بلافاصله بعدازین راي ګیري نطاق حکومت ګفت صدراعظم ازصلاحیت خود براساس قانون اساسي استفاده کرده وپارلمان رامنحل وانتخابات سریعي را برګزار خواهد کرد.

دنایجریادرومحکموحکم کړي چي دانتخاباتو نتایج دي باید اعلان کړي شي.

نایجریا دغبرګولي ۲۸ نېټه.
په نایجریاکي دپوځي واکداري ځخه ملکي حکومت ته دقدرت دانتقال په جریان کي دراپیداشوي جنجال په وجه دهغه هیواددوو محکمو دانتخاباتي چارو مامورینو ته امرکړي دي چي دشنبي دورځي دجمهوري ریاست دانتخاباتو نتایج خپاره کړي.
دلاګوشي اورنګ دښاروټو عالي محکمو دانتخاباتو کمیسون ته نن ناوخته پوري وخت ورکړي چي دغه نتایج خپاره کړي دروانې اونۍ په سرکي دابوجان دښار یوي محکمي ددي تورونوپه وجه په رایه ګیري کي تګي شوي دانتخاباتو کمیسیون ته امروکړ چي دانتخاباتو نتایج ونډندوي . دغه کمیسیون دمحکمي دحکم په اساس دانتخاباتو جریان ترنامعلوم وخت پوري وځنډاوه ځیني خلك تورلګوي چي دنایجریا پوځي مشر ابراهیم باباتګیندادي لپاره چي په قدرت کي پاته شي په خپله داجنجال پیدا کړي دي.

نمایندګان ۱۱ کشور پیرامون کمك به کاموج به مذاکره نشستند.

نمایندګان ۱۱ کشور جهان براي ګفتګو درباره اعطاي کمك اضطراري به کامبوج امروز درپنوم پن ګردهم آمدند .
پنج عضو دایمي شوراي امنیت امریکا، روسیه،انګلستان،فرانسه وچین وهم چنان کانادا ،استرالیا ،آلمان ،اندونیزیا ،جاپان وتایلند کشورهاي شرکت کننده درعملیات سازمان ملل درکامبوج درین ګردهم آیي حضوردارند.
اعطاي کمك ها ي سیاسي ونظامي به کامبوج درآخرین مرحله صلح درین کشور جنګ زده دردستورکار کنفرانس قراردارد. خمرهاي سرخ اعطاي این کمك رامحکوم کرده اند .

نامیبیا دسولي دخبرو دنه پرمختګ ملامتي پرملګروملتو اچوي.

نامیبیا : دغبرګولي ۲۸ نېټه.
دنامیبیاصدراعظم وایي چي په انګولاکي دسولي دخبرو دنه پرمختګ ملامتي باید پرملګروملتو باندي واچول شي.
ده چي دافریقا دجنوب دهیوادونو ددفاع دوزیرانو په غونډه کي وینا کوله وویل دانګولا دکورني جګړي په بیاشروع کیدوکي اصلي علت دیونیتا یاغیان ویلل له بلي خوادانګولا پارلمان پرون یوه پرېکړه تصویب کړه اوپه هغي کي دیونیتا دیاغیانو په مقابل کي دعمومي سفر بري غوښتنه وکړه . په دغه پرېکړه کي دحکومت لخوا وغوښتل شول چي په سیاسي لحاظ دیونیتا دتجریدو لو لپاره سیاسي مبارزي باندي زور واچوي.

شهادت

زموږ کوشش دادی چی دیرژر ملي اسلامی اردو جوړ کړو

دجوزادمیاشتي په ۲۷ نېټه دافغانستان داسلامي دولت دنوي کابینې دتحلیف له مراسمو وروسته کابینې دافغانستان داسلامي دولت دصدراعظم محترم حکمتیار ترمشري لاندي لومړي رسمي غونډه وکړه .
اودهیواد دروانو ستونزو دحل په اړوند یي لازم تصمیمونه ونیول دکابینې له غونډي وروسته محترم صدراعظم په یوه مرکه کي وویل : نننۍ غونډه کي دپروګرام مطابق دزړي کابینې دمحترمو غړونه مننه اوتشکر وشو ، دنوي کابینې غړوته وویلي شول چي هغوي باید عملاً په خپلو مربوطه وزارت خانو کي خپل کار پیل کړي ، دتحلیف مراسم ترسره شول دکابینې لمړي رسمي غونډه نن دایر شوه ، دکابینې دراتلونکو جلساتو دمحل په ارتباط فیصله وشوه او په دي ارتباط هم خبري وشوي چي دکابل امنیت ډیر ژر تامین شي او جګړه پاي ته ورسیږي دجلال آباد توافقات باید ټول سل په سلو کي اوژرعملي شي . دلاري امنیت تامین شي محترم صدراعظم زیاته کړه له دي لحظي نه بعد به دلویو لارو په اوږدو کي پاټکونه اوپوستي ختمیږي ، هیڅوك حق نه لري موټر متوقف کړي حق العبور واخلي ، خلك اذیت کړي ، حتي ددولت رسمي پوستي به هم ترڅو چي په دي باب نوي تصمیم نیولی کیږي دلارو په اوږدو کي کار وانو نه متوقف کوي او حق العبوریه نه اخلي یوکمیسیون ته وظیفه ورکړي شوه چي په عاجله توګه دلاروپه اوږدو کي د غیر مسؤلو مسلح کسانو پوستي ختمي کړي اوله هغو نه وغواړي چي له دي نه پس به دلارو په اوږدو کي پوستي نه اچوي ،کاروانونه به نه متوقف کوي او دخلکو نه به حق العبور نه اخلي همداراز سبا ته دوزارت داخلي مربوط کمیسیون بلل شوي چي دابه دکابینې دجلساتو دمحل دامنیت دتامین په ارتباط اوپه کابل ښارکي دامنیت دتامینولو په اړوند جلسه لري اودي جلسي ته به دحزب وحدت اسلامي او داتحاد اسلامي باصلاحیته نمایندګان بلل کیږي ترڅو ددواړو طرفونو ترمنځ دايمي اوربند تامین شي .
دافغانستان داسلامي دولت معظم صدراعظم دبي بي سي دخبر یال ددي پوښتني په ځواب کي چي نوي حکومت به په څومره وخت کي قادر شي چي دزیدخلو قوتونو نه دکابل په مختلفو سیموکي ثقیله سلاح راټولي کړي وویل:
زموږکوشش دادي چي دجلال اباد دتوافقاتو سره سم به ډیرژر ملي اسلامي اردو جوړه شي ، درنې وسلي راغونډي شي اردو ته انتقال شي ،مختلف مسلح قوتونه اوپوځونه ختم شي ، موږ یوملي پوځ ولرو دټول ملت اودملك په خدمت کي زه ګورم چي ټول تنظیمونه په دي ارتباط مخلص دي او غواړي چي دجلال اباد دمعاهدي سره سم ډیر ژرمربوط کمیسیونو نه ددفاع دکمېټه په شمول خپل کار پیل کړي ، اوهغه ته چي کوم وظایف سپارل شویدي هغه فیصله کړي که دااردو دجوړولو په ارتباط کار دي اوکه ددرنو وسلو دراغونډولو په هکله .
#####

دشهید صوفي امیرګل "همت یار" دشهادت اتمه کلیزه دي ټول اسلامي امت ته مبارك وي

له نن څخه اته کاله وړاندي دبلخ ولایت دحضرت بلال "رض" دحوزې دنظامي چارو مسؤل زړور مجاهد صوفي امیرګل "همت یار" په شهادت ورسید.
شهید صوفي امیرګل "همت یار" دافغانستان دجهادي تاریخ هغه ځلانده ستوري و چي د هیوادپه اسمان کي وځلید اودجهاد درپانده بیرغ په پورته کولو سره یي دهیواد داسلامي غورځنګ په لیکو کښي دمتعهد واومجاهدو شاه زلمو په تنظیم کښي نه ستړي کیدونکي هلي ځلي وکړي.
ددغه شهید وسله وال جهاد ته وردانګل او نه ستړي کیدونکي مبارزه ، دویني اوشهادت دلاري انتخاب ، دجهادي حرکت په وسیله دامن ، عدل ، انصاف اودیوه واقعي اسلامي نظام جوړول هغه واقعیت دي چي دشهید لوړ اواسلامي فکر هر چاته څرګند وي.
یقیناً دشهید "همت یار" تګلاره ، اسلوب اومقاومت ترټولو غوره وسیله داسلامي ټولني دجوړښت لپاره ګڼل کیداي شي اودادهر مسلمان لاره ده .
دبلخ ولایت متعهد اودخداي (ج) دلاري سرښندونکي سپاهیان دهیواد ټولو جهادي ځواکونو ته داډادورکوي چي انشاءالله دجهاد مقاومت اواسلامي دعوت لاره به په پوره میړانه تعقیبږي اودهیواد دسوکالي په جهت کښي به هم صادقانه مخ په وړاندي درومي اودهیواد دشهیدانو دارمانونو په تحقق کښي به اخلاصمندانه اود وینو په قیمت نه ستړي کیدونکي مبارزه اوجهاد کوي.
دشهید صوفي امیر ګل "همت یار" شهادت دګران هیواد افغانستان ټولو مومنو اومخلصو مجاهدینو ته مبارکي وایو . دعزیزاسلام دبري په هیله.

زړورمجاهد عبدالظاهرشهیدشو

په کابل کي پرحزب اسلامي باندي دتپل شوي جګړي په لړکي پیاوړي قوماندان عبدالظاهر په شهادت ورسیده . مجاهد عبدالظاهر نه یوازي په کابل بلکه دخوارلس کلن جهاد په موده کي تل دکورنیو کمونستانو اویرغلګرو روسانو او هرراز توطیه ګرانو په وړاندي په میړانه جنګیدلي او ګڼ شمیر بري یي ګټلي دي.
شهید عبداظاهرجان دعبدالرشید خان زوي داورزګان دولایت دچورې داولسوالي دپاتان په کلي کي په ۱۳٤۲ کال زیږیدلي اوتعلیمات یي تر اتم صنف پوري دپاتان په ابتدایي سوونځي کي ورسول دکمونستي کودتاوروسته یي تعلیم نیمګړي پاتي شوي او ددښمنانو په خلاف یي په وسله وال جهاد کي شریك شوي شهید داوزګان پرولایت سربیره دکندهار په مختلفو ولسوالیو کي دیو باتورقوماندان اومجاهد په حیث برخه اخستي څوځله ټپي شوي هم دي په کندهار دارغنداب او داوزګان ولایت دهراود خاکریز اودهلمند ولایت دکجکي ولسوالي په فتوحاتوکي هم رول درلود ، دلشکرګاه په فتحه کي یي دیوه لاس ګوتي هم له لاسه ورکړي څو بیا هم هغه وسله په ځمکه کینښوده بلکي په کابل کي یي د ائتلافیونو اوتوطیه ګرانو په خلاف په جهاد پیل وکړ اود جنوب غرب محاذ دتعرضي ګروپ مسولیت یي په غاره و دچهلستون ،تخنیکم دارالامان ، بریښناکوټ ، ریاست پنج اودخوشحال خان دفرقه چهار په فتحو کي یي عمده رول درلود بالاخره د ثوردمیاشتي په ۲۷ نېټه ددښمن له خوا په شهادت ورسید.
روح یي دي ښادوي.

دعراق په ښوونځیو کي دقرآن کریم زده کړه حتمي وګڼل شوه

جنګ راولپنډي.
دعراق حکومت دتعلیم اوتربیي ټولو ځانګو ته هدایت کړي دښووني اوروزني په پروګرام کي دهرټولګي لپاره دقرآن کریم دزده کړي په اړوند لازم تصمیم ونیسي ځکه له دي وروسته په عراق کي دقران کریم زده کړه په ټولو شاګردانو لازمي ګڼل شوي اودافرمان دعراق جمهور رئیس امضا کړیدي او ورسره سم یي دقرآن دسمي زده کړي لپاره دوه ملیونه ډالره بودجه خاصه کړیده .

اعلان

په بګرامیوکي دحضرت خالدبن ولید دحوزي له خوا دنوي کال کلیزي په زره وړونکي اوښکلي ډیزاین چاپ شویدي او ورسره ورسره زیات آفاقي معلومات هم لري .
میته وال یي په یوردکي دشهادت ورځپاڼي له نمایندګي څخه ترلاسه کولاي شي.

فرمان الهي

«سوګندبه عصروزمانه هرآئینه انسان درزیانکاري است، مګر کسانیکه ایمان آوردند واعمال صالح نمودند وهمدیګررابه حق وصبرتوصیه کردند .»
(العصر - ۱-۳)

ارشادنبوي

حضرت انس (رض)روایت مي کندکه پیامبر(ص)فرمودند: «کسیکه بمن یك صلوات بفرستدخداوندبراوده صلوات میفرستد وده سیئه راازاومحومي نماید»

بقیه سرمقاله

در این ګردهم آیي،صدراعظم واعضاي کابینه براي اقامه حکومت اسلامي وخدمت به مردم بي دفاع افغانستان حلف وفاداري یادکردند.
برادرحکمتیار طي بیانیه مختصري ازجانب خود و کابینه اش وعده هرګونه تلاش وفداکاري داده اظهار امیدکردکه به یاري خدا کشور را از وضعیت ناګوار کنوني نجات داده مسؤلیت خطیر خو درا در برابر خدا (ج) ورسول (ص) انجام بدهد. محترم پروفیسور رباني براي کابینه حکومت جدید دعانموده ووعده هرګونه همکاري داد.
بعدازاجراي مراسم تحلیف،درموردمسایل مهم چون تامین امنیت درشهر کابل ،تشکیل اردوي اسلامي ، برداشتن موانع از مسیر شاه راه ها محل و چګونګي شروع کار صدراعظم تصامیم اتخاذ شد.
قرار برآن شد تااعاده امنیت درشهر کابل صدر اعظم میتواند براي خود دفتر مؤقتي تدارك ببیند . روي همین فیصله دفتر صدارت عظمي اعلان داشت که اجلاس آینده کابینه برو زشنبه ۲۹ جوزا تحت ریاست صدراعظم محترم حکمتیار درمکان امن درمحوطه شهر کابل دایر مي ګردد . خدا کند این جلسه نیز با موفقیت همراه باشد ویا اتخاذ تصامیم سرنوشت سازي براي مردم مسلمان ما منتج ګردد.

ګروه هاي جهادي ،عناصر خبیر و فرد فرد هم وطنان ماوظیفه دارند که دیګر تمام مسایل شان را درجهت احترام به این تحول میمون به خرج بدهند تاباشد که این نهال نو غرس وحدت وبرادري به زود ترین فرصت بار ورګردیده خون بیشترازیك ملیون شهید بهدرنرود .
والسلام.

رئیس جمهور وصدراعظم بخشي جدایي ناپذیرازنظام کشوراند

غلام اسحق خان

اسلام اباد ۲۸ جوزا.
غلام اسحاق خان رئیس جمهور پاکستان ازضرورت برقراري روابط عادي بین او و صدراعظم نوازشریف سخن ګفته است . غلام اسحاق خان درمصاحبه با یکي از روزنامه هاي انګلیسي زبان پاکستان ګفت:رئیس جمهوري وصدراعظم بخشي جدایي ناپذیرنظام کشور است وبدون همکاري بایکدیګر قادر به انجام وظیفه نخواهند بود. خبرنګاران میګویند غلام اسحاق خان درین مصاحبه لحن سازشکارانه داشت واین سخنان وي بعداز ابطال فرمان وي مبني بربرکناري دولت وانحلال مجلس اولین اظهار نظر اودر مصاحبه مستقیم بارسانه هاي ګروهي است.

کابینه ...

صادقانه عمل نمایند ،قوانین اسلامي راعملي خواهند کرد وکشور ویران خو درا آباد نمایند.
قراریك خبر دیګر محترم رئیس دولت با اعضاي کمیسونهاي موظف وزارت خانه ها دیدار نموده و خواستار ایجاد فضاي تفاهم وبرادري میان نیروهاي جهادي ګردید درمقابل اعضاي کمیسیون ها به رئیس دولت اطمینان دادند که در اجراي وظایف شان مساعي بخرج دهند هم چنان محترم برادر حکمتیار صدراعظم کشور بعداز اجلاس کابینه با اعضاي کمیسونها ملاقات نموده ودر مورد اوضاع جاري کشور توضیحات لازم داده آنها را به مسؤلیت هاي شان متوجه ساختند محترم صدراعظم وعده هرګونه همکاري را به اعضاي کمیسیون ها داده وازایشان تقاضا نمود در اجراي وظایف محوله شان به اقدامات جدي وعملي بپردازند.
محترم برادر حکمتیار صدراعظم کشور شام روزپنجشنبه به مقر مؤقت صد ارت اعظمي درچهار آسیاب تشریف آوردند.

دبي درکي اعلان

عزت بي بي دمرحوم مرسلین لور د ننګرهارولایت دچپرهار ولسوالي دلونګپور کلي اوسیدونکي په عمر اته کلنه تورکمیس اوشین پرتوګ یي په ځان اواسماني رنګه څپلي یي په پښو دي څو ورځي دمخه دپیښور په هشتنغري کي لادرکه شوي ده که چاته په دي باب پته وي په لاندي ادرس دي خبر ورکړي
پیښور دکچه ګړي کمپ ، دکمنډري څتاپ دډاکتر محمد عظیم احمدي کلینیك یادحضرت امین درملتون یادکچه ګړي څلورم لمبر کمپ دډاکتر محمد نبي امرخیل کلینګ ته دي خبر ورکړي.

ترڅو جنګي حالت..

تاسي په نظر دزیدخلو قوتونو په چمتو شي چي خپله ثقیله سلاح ګاني دفاعي کمیسیون ته وروسپاري وویل زه فکر کوم چي ترڅو موږ جنګي حالت ختم نکړو او دیوره امن اواطمینان لپاره مخلصانه کارونکړو دنورو کارونو اوفعالیتونو لپاره به زمینه نه مساعدیږي ، په دي هکله چي زه څومره معلومات لرم ټول قانع هم دي علاقه مندهم دي اوکله چي داکار روان شي انشاءالله چي نوره ربنایي به هم په دي هکله ولیدل شي.

شهادت
بیانګرعقایدوآرمان هاي حزب اسلامي افغانستان
صاحب امتیاز: حزب اسلامي افغانستان
مؤسس : انجنیرحکمتیار
ناشر : ریاست ارشادوفرهنګ
تحت نظرهیئت تحریر
پست بکس : ۱۰۳٦ یونیورسټي ټاون پشاور
آدرس : جلال آباد چکتوري
حساب بانکي:۸۵۲٦٤ دافغانستان بانك
تلیفون : ۲۹۲٦